مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

استاد شهسوار سنگروال ۲۰۱۸/۰۸/۱۸

# د پاچا امان الله کورني او بهرني دښمنان

## د هېواد د خپلواکۍ په مناسبت

په پکتیا کې د منګلو او په ننګرهار کې د شینوارو پاڅونو د پاچا کورنیو او بهرنیو دښمنانو ته د دې وس او وخت په لاس ورکړ چې د امان الله په وړاندې ودرېږي.
یو شمېر ملایان قومي مشران دیني عالمان په تېره حضرتان د امان الله د سمونونو په مخالفت را پورته شول او په تبلیغونو یې لاس پورې کړ.
د امیر عبدالرحمن خان د واک پر مهال هم یو شمېر ملایان د پاچا په وړاندې ودرېدل چې ملا عبدالکریم د ساري په توګه یادولی شو، خو د عبدالرحمن له خوا په بېرحمۍ وځپل شول.
ولي امیر بیا هم هغه ملایانو ته ارزښت ورکاوه چې د « ملاخوسه» په مشرۍ به ازموینه کې بري ته رسېدل. یا خو امان الله خان دومره ځواکمن نه وه او یا یې نه غوښتل چې د نیکه په څېر شورشیان و ځپي.
کومه خبره چې پاچا ته ستونزمنه شوه او دی یې له پښو وغورځاوه د ده سرداران او درباریان وه چې د شاله خوا یې پرې برید وکړ.
دا ټول ملایان نه ول چې د ده په وړاندې ودرېدل بلکې هغه د امان الله خان د لور« هندیه» خبره:
کوم څه چې د ډېرې اندېښنې وړ ول هغه دا: چاچې ویل دوست یم هغوی دوستان نه ول.
محمد ولي خان چې د پاچا له ډېرو نږدې او باوري کسانو څخه وه، ده هم د امان الله په اصلاحاتو سترګې پټولې.
د پاچا په نسکورولو کې جمهوري غوښتونکو، په سرکې محمد ولي، د شوربازار حضرت او نورو سملاسي رول ټاکونکی ثابت شو. غلام صدیق او محمد ولي په پټه د شینوارو او کوهدامن داړه مارانو په لمسولو سره... د کابل د نسکورېدو لپاره ډګر هوار کړ. [1]
پدې تړاو یو شمېر نور لاسوندونه هم تر سترګو شویدي، چې ځنې کسان د پاچا په وړاندې ودرېدل چې موږ یې په لنډیز یادونه کوو:
۱ـ د پاچا امان الله د نستوري ماران له ټولو خطرناک ول او په ځانګړې ډول هغه غوړه مالان درباریان او سرداران چې په فساد کې ښکېل ول.
۲ـ له برتانوي استازي « مکوناچي» سره د شېر احمد خان لیدنه.
د ساري په توګه (د سپتمبر ۱۷-۱۹۲۴ کال) چې د دولت اسرار یې ورته وویل... کله چې بیا پوه شو پاچا له ماتې سره مخ دی د انګرېزانو استازی مطیع الله حافظ ته یې وویل: دا زما پیغام برتانوي چارواکوته ورسوه:
زه به لمړی سړی یم چې په امیر به ډز کوم.
۳ـ والي علي احمد خان چې د پاچا اوښی کېده او هم یې د ماما زوی. کله چې جلال آباد ته واستول شو، لا یې یاغیان اړو دوړو ته وهڅول. دی پدې اند چې له امان الله نه وروسته به دی پاچا کېږي.
ده ان په ۱۹۲۷ کال دمې په ۱۴ نېټه چې د کابل والي وه او پاچا په یوه سفر د هېواد شمال ته تللی وه د انګلیس یوه استازي بسیل ګولډ **Basil Gould** سره ولیدل او ورته یې وویل:
زه په سرحد کې ډېر پلویان لرم، که چېرې بهرنی لاسوهنه نه وي زه پرته له وینو تویدنو بریالی کېږم..
آیا د کودتا په برې سره برتانویان غواړي چې روسان له صحنې نه وباسي؟.[2]
٤- داسې انګرېزي هم شته، چې یوازې دشینوارو یاغیتوب او په کابل کې دځواکونو نه شتون ددې لامل نه وو، چې د سقاو زوی حبیب الله واک ته ورسید. بلکې دمحمد ولي خان او شوربازار حضرت محمد صادق او د نورو لمسونو، دحکومتي لوړ رتبه چارواکو تېروتنو او هم پخپله د پاچا د سملاسي او بې فکره اعدام کولو حکمونو دسقاو زوي بري کې سملاسي رول ولوبوه. [3]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

یو شمېر بهرنيو او کورنيو څېړونکو بيا بيا خپلي څرګندوني غبرګي کړېدي چي برتانوي ښکيلاک د پاچا پر وړاندي له همغه مهاله چي ده خپلواکي واخسته پدې لټه کي ول چي دی څرنګه له پښو وغورځوي؟ خو کله چي د خوست پاڅون پيل شو. له دي وروسته د انګرېزانو هڅي ګړندی شوي چي څو بېلګي يې داسي دي.
۱ـ ستېوارت ډاګيزه کړېده چي « يو شمېر بهرنيو هېوادونو په ځانګړې ډول برېتانيا او برتانوي هند پدې هڅه کي ول چي يو شمېر استازي دېته وګماري چي د امان الله خان حکومت نسکور کړي».[4]
ستېوارت دا هم ويلي دي چي (۲۶۶مخ) کله لارډ رابرتس په کا بل کي وه له خپلي ځانګړې دندي سربېره يې له يو شمېر مخورو افغانانو سره ليدل او په ډېر درناوی به يې له چاړواکو سره د اداري چارو په تړاو خبري اتري کولې.
۲ـ تول ملايان د امان الله خان پرضد نه ول شمس المشايخ د پاچا له ټينګو ملا تړو نه ګڼل کېده، نامتو او مخوره شخصيتونه لکه د ترنګزو حاجي صاحب، ملا عبدالرازق اندړ او نور د بېلګي په تو ګه يادولی شو.
خو ديو شمېر لاسوندونو له مخي چي په لندن کي ننداړتون (**exhibition**) ته سپاړل شوي ول د سردار محمد يعقوب خان دوه زامن (محمد اکرم- محمد اعظم) چي په برتانوي هند کي استو ګڼ ول دېته هڅول شوي ول (۱۹۲۷ز کال) د فبروری مياشت) چي په کندهار کي پا څون وکړي.
دي کي شک نشته چي د سردار ايوب خان زامن لکه د ده د ورو محمد يعقوب خان زامنو په څېر (پکتيا کي) انګرېزانو لمسولي وي چي کندهار ته لاړ شي. که څه هم پروفيسر ډاکتر لودويک اډمک. امريکايي (اتريش الاصل) تاريخپوه پخپل کتاب (۱۹۷۳ کي خپور شويدی) کي د برتانوي هند لاس لرل. پاچا امان الله د نسکورولو په تړاو کوم لاسونه ندي په ګوته کړي.
ولي برتانوي استازو پخپله په کابل کي دبرتانوي سفير هانډ او هڅي او داسي نورې نښې نښاني دا په ګوته کوي چي برتانوي هند لاسوهنه په يو ډول نه يو ډول څرګندېږي.
لا پاچا په واک کي وه چي برتانويانو د الوتکو په وسيله د سفارت استازي له کابل نه وويستل.
داچي اداميک او يا د ده په څېر نور څېړونکی د انګرېزانو دلاسوهني کوم لاسوندونه نه لري. د دي خبري مانا دا نه ده چي ده د برتانيا ټول پټ اسناد ليدلي وي. بنايي د آرشيفونو له لړونه لړ لاسوندونه هم نه وي ليدل شوي.
۳ـ په کابل کي د برېتانيا د سفير همفريز مېرمن بيا په خپلو خاطرو کي کښلي دي:
« ما کتاب لوسته چي ناڅاپه د سفارت استازی بي-جي ګاولډ» راغی را نه وېي پوښتل چي وزير مختار(همفريز) چېرته دی؟ په باغ بالا کي د پام وړ پېښه تر سترګو کېږي.
همفريز په بله خونه کي د فرانسي له استازي سره ناست وه. د خبري په اورېدو دی هم د باغ بالا مانۍ ته متوجه شو. ليدل مو چي شورشيان پرته له کوم مقاومت نه د ښار په لور را روان دی او ډېر ژر د سفارت مانۍ ته راورسېدل.
د سقاو زوی حبيب الله خان پخپله په دروازه کي د همفريز سره وليدل نوموړي ورته وويل:
موږ له تاسو سره کار نلرو. امان الله وژنو ځکه چي کافر شوی دی.
بيا يې خپلو جنګياليوته وويل د برېتانيا د سفارت خيال ساتئ چي کومه ستونزه ورته پېښه نشي.
همدغه خبره د پوښتني وړوده. ...!؟ هغه مهال چي د سفارت ډاکتر چي د سقاو زوی تداوي کوي دا يو بل لامل ګڼلی شو...!؟

## د ستيوارت د سپارښتني له مخي:

له يوې خوا د برېتانيا د سفارت خوا خوږی اوله بلې خوا د امان الله خان او همفريز اختلاف دا يوه بله مهمه خبره ده چي د برېتانيا دلاسوهني منطق پياوړی کوي.[5]
۴ـ يو شمېر قبايلي مشرانو غوښتل چي د امان الله مرستي ته راو دانګي. ولي برېتانوي ځواکونو د هغوی مخه ونيوله چي لودويک ادمک هم د ورته څرګندونو له مخي ډاګيزه کړېده.
د هند له لاري په هغو وسلو بنديز لګېدلی وو چي بايد افغانستان ته راوړل شوي وي او دهغو کسانو مخنيوی چي غوښتل يې د برتانوي هند له پولو راواوړي،»[6]
۵ـ د سقاو زوی حبيب الله لا د کلای مراد بيګ د بريد په حال کي وه چي همفريز د بهرنيو هېوادو نو ډيپلوماتيک غړي دېته هڅول چي له کابله ووځي.
نو ځکه خو ده د ډسامبر په وروستی (۱۹۲۸کال) اونی کي د الوتکو په وسيله د برېتانيا د سفارت د ېپلوماتان پېښورته و لېږل.
۶ـ هغه مهال چي امان الله بهرته په سفر تللي وه لارنس په سيمه کي شتون درلود. ولي يو شمېر تاريخپوهان دا نه مني، ګڼي کوم رول چي لارنس د هغي جګړې په بهير کي چي عربان يې دعثماني ترکي په وړاندې لمسول په افغانستان کي ادا کړی وي!؟ مير محمد صديق فرهنګ له همدې ډلي څخه دی، چي کاږلي يې دي:
هېڅ لاسوند شتون نلري چي نوموړی د کومي خارګري اداري له خوا دېته هڅول شوي وي چي په کوم بهرني هېواد کي لمسوني کړی وي...
موهمه دا چي لارنس ددی استعداد هم نه درلودل او نه پدې تړاو کومي دندي ته ګمارل شويدی.۷[7]


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

ولي وروستيو څېړنو ډاګيزه کړېده چې په « عربي لارنس» نامتو، تي- اي لارنس **Colone I. T.E Lawrence** د پاچا امان الله د حکومت په نسکورولو کې د برېتانيا د چارواکو په لمسون ځانګړی رول درلود.
**London Sunday express** د لندن سنډې اېکس پرېس مهالنی په ۱۹۲۸ ز کال د سپتمبر په ديارلسمه نېټه په خپله ګڼه کې په ډاګه کړېده چې لارنس د يوه پټ ځار لپاره د افغانستان پولې ته ګمارل شوي دي.
د برېتانيا د آرشيف په پټو لاسوندونو کې هم د برېتانيا د بهرنيو چارو وزارت په تړاو انګېرني شتون لري. ولي يوه خبره بايد هېره نکړو هغه داچې برېتانيا نه غوښتل چې د بلشويکانو له وېرې د افغانستان کړکېچ اوږد شي.
خو د يوې ځانګړې نخشې له مخې يې غوښتل چې امان الله خان نسکور کړي.
«انګليس د يوې ټاکلې نخشې له مخې د امان الله خان د حکومت نسکورولوته ژمن وه. که دا دهر چا په لاس شوني وه.
ولي د انقلاب پايته رسول يې هم غوښتل خو چې د دوی د يوه متحد لخوا يو باثباته مرکزي حکومت ټنګ شئ.
د شورش په سرکې کلنل لارنس د افغنستان په ختيز کې د قومونو په منځ کې پيداشو او باروتو ته يې تيلي وواهه. [8]
د ډيلي نيوز لندن» ورځپاڼې د ډسمبر په پنځمې (۱۹۲۸ ز کال) نېټې **the London daily news** په خپلې دې ګڼه کې کښلي چې لارنس په ډېلي کې د پښتو ژبې د يادولو په در ښل کې دی.
رويټرهم په **Daily News** له خپروني څلور ورځې وروسته (۱۹۲۸/۱۲/۹) د دې خبرې پخلی کړی چې لارنس د شينوارو په شورش کې لاس درلود.
د همدرد افغان ورځپاڼې هم دېته ګوته نيولې ده چې لارنس د کرم شاه پير په نوم د حکومت په مخالفينو کې ورګډ شويدي.[9]
کله چې حضرت صاحب نورالمشايخ له افغانستان نه ووت يوڅه موده په پښتونخوا کې استوګن وه وروسته سر هند ته لاړ خويه ډېره اسماعيل خان کې ډېر موريدان وروزل او ټولو خلکو به دی د شېر اغا فضل عمر په نوم يادواوه.
دده او يا دده مريدانو لاسونه هم د شينوارو اړو دوړ ته راوړد شوي او راغورځېدلي ول چې ولس د پاچا په وړاندې ولمسوي.
د مسکوپه ډله ييزو رسانيو کې هم داسې ګونګوسې راپورته شول چې د « ملکې ثريا» لوڅ او بر بنډ انځورونه د شينوارو ياغيانو په منځ کې خوربږي او شورشيان په برتانوي وسلو سمبال دي.»
له دې څرګندونو نه دې پايلې ته رسېږو چې د پاچا امان الله په نسکورولو کې د افغانستان کورني او بهرني دښمنان ښکېل ول. او ان امان الله خان ته ډېر نږدې دوستان او درباريان هم له پامه نه سو غورځولې.
له بده مرغه پاچا هم د اتاترک هغې سپارښتنې ته ډېره پاملرنه ونه کړه چې ورته ويلي يې وو: که غواړې چې سمونې دې پلې کړې. نو پوځې ځواک ته ځانګړې پاملرنه وکړه. ده نه يوازې چې پاملرنه ونه کړه بلکې د اوردو شمېر يې لږ کړ او هغو پوځې مشرانو ته يې هم پام ونه کړ چې د ده ملاتړې ول، چې موږ مبارک شاه جنرال محمد عمر عثمان (سور)، دادمحمد خان ورکزی او نور.
د پام وړ خبره خو داوه چې امان الله خان د مرکزي ځواکونو قوماندان يو ترکې اصله جنرال محمود سامي د نايب سالار په توګه وټاکه. له دې سربېره د محمود طرزی، عبد الهادي داوي، ميرسيد قاسم خان او د دوئ په څېر يو شمېر نور لوړ رتبه چاروکي او د ده نږدې خوا خوږي هم له ده نه خوا بدي شول.

## که امان الله خان غوښتې وی!؟

کله چې موږ د خپلواکۍ د ګټلو شور او زوږ ته ګورو، نو ويلی شو، که چېرې د افغانستان پاچا د ډيورنډ کرښې دواړو غاړو ته په پرتو افغانانو غږ کړی وی، نو د ډيورنډ د کرښې ناسور زخم يې جوړولی شو. پدې ما نا چې د لوی افغانستان خپلواکي يې اعلان کړې وې...
ښايي امان الله ته به د ده سلاکارانو او يا د امير عبدالرحمن خان او امير حبيب الله خان درباريانو هم کومه کيسه د ډيورنډ د ښمنی په تړاو چې له افغانانو سره يې درلوده نه وې کړې، چې موږ دلته دده د ناوړه چلن يوه بېلګه د امير پر وړاندې د ګواښ په توګه راوړو چې ډيويډ لاين ورته اشاره کړې ده:
برېتانيا غوارې د ۱۸۷۳ کال د ترون پر بنسټ سرحد وټاکل شي، په دغه ترون کې افغنستان د روسيې او برېتانيې تر مينځ يوه بېطرفه سيمه بلل شوې وه. شېرعلي د دغه ترون د لاسليک لپاره شيملې ته تللی وو.
عبدالرحمن خان اسويلي وکيښ او وې ويل، چې شېر علي يو احمق انسان وه...
په دغه کار سره، د ده پر وړاندې تولې لارې وتړل شوې... هغه ته کومه پښه پاتې نشوه چې پرې ودرېږي، اړ وو چې په سر ودرېږي.
څو ورځې نورې هم تېرې شوې، امير له برېتانويانو نه يو شمېر نور ليکونه او نخشې هم وغوښتې...
ډيورنډ وېره درلوده که خبرې نورې هم وځنډېږي ښايي ستونزې جوړې شي.
دلته د پيني يادونه وشوه، هغه پرته د امير له سلا نه د امير د وسلو کار خانې ډيورنډ ته ور وښودلې. نوموړي ډيورنډ ته هغه کيسه هم وکړه، چې يو چا امير ته تلېسکوپ ورکړی وو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

امیر ورته وویل: آیا له دې ښخه کومه وسله جوړېدلی شي.
له دې ښخه څرګندېږي چې امیر له وسلې سره د هېواد د ساتنې لپاره ډېره مینه ښوده.
انګرېزانو ته دغه ګونګسې هم رسېدلې وې، چې امیر د روسيي له لورې ځان داډه کړی وه، په دغه لړ کې «لانسډون» انګېرله چې امیر ښایي له روسیې سره داسې تړون کړی وي، چې روښان، شغنان او د امو سین ختیځې سیمې به بېرته امیر ته پرېږدې او امیر به روسانو ته په بدل کې د واخان د تنګې دعوې نه تېرېږي، سره ددې ټولو توطیو چې د امیر پر وړاندې رواني وې، ولې بیا هم ده له روسانو او انګرېزانو سره ډغرې وهلې.
په دې تړاو ډیورنډ په یوه لیک کې لانسډون ته وکښل: زه چې هرڅه وکړم بیا مې هم په هغه زړه سوځي، هغه په یوازې سر لګیا دی له برېتانیې او روسیې سره ډغرې وهي، بیا هم امیر ستونزې درلودې او ډیوېډ لاین د امیر او ډیورنډ د چنو په اړه کارلې دې امیر د اسمار، چمن او وزیرستان په نه ورکولو ټینګار کاوه.
ډیورنډ له ګواښونو سره سره ورته وویل، چې پدغې پرېکړې سره ډېره لږه شتمنې له لاسه ورکوی.
امیر پوه شو چې نشم کولی له روسانو او انګرېزانو سره یو ځای وجنګېږم نو بیا یې د اجارې په بڼه د پیسو یو لست د وزیرستان، د شاګی، دشترګردن... او نورو سیمو ورته واستوه.
ډیورنډ دا له خندا او ملنډو ډک لیک احمقانه وباله.
نږدې شپږ اونی وروسته د نوامبر په ۱۲ مه معامله ترسره شوه او له دې سربېره ډیورنډ د واخان تنګی یوه بېطرفه افغان سیمه وټاکله.
د انګرېزانو دغه لاسوهنې پر همدې ځای پایته ونه رسېدې، ان خپل لاسونه یې د امان الله تر واک او ځواک پورې را وغځول، کنه له امان الله سره د سیمې په تړاو ډېره لویه نخشه موجوده وه، چې ترسره نشوه.

---

[1]:- محمد حسن پوهاند ډاکتر کاکړ د پاچا امان الله واکمنې ته یوه نوې کتنه ۱۳۶ مخ
[2] :- Stewart, rhea tally, firein Afghanistan-1973
[3]:- کاکړ پوهاند ډاکتر محمد حسن ۹۹ مخ
[4]:- ستېوارت ۵۸۳ مخ (۵۶) همدغه اثر ۲۶۶مخ
[5]:- ستېورات له ۴۳۷نه تر ۵۰۴ پورې
[6]:- ادمیک لودویک د افغنستان بهرنی اړیکې
[7]:- فرهنګ میر محمد صدیق افغانستان در پنج قرن آخر ۵۵۱ مخ
[8]:- فرخ سید مهدي تاریخ سیاسي افغانستان ۴۸۳-۴۸۴مخونه
[9]:- همدرد افغانستان د اپرل ۸ نېټه ۱۹۲۸ کال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ